نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۱۲/۱۹

# دسولې له پاره د پاکستان او چين پرځای ايران او روسيه د قطر دفتر د بيا پرانستل کيدو آوازې

که ربنتيا هم غني سياست ته ژمن وي او د سولې تجارتي پروژو ته ژمن نه وي، آسانه او لنډه لار به داوي چې امريکا وهڅوي چې سولې ته غاړه کيږدی، د خپلو پوځيانو د ايستلو اعلان او امنيتي تړون فسخ او يا د شرايطو تغيير، د طالبانو سره د امريکا مخامخ خبري او بيا وروسته بين الافغاني تفاهم ته لاره هواره کړي.
د ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله د ګډ حکومت له اعلان سره سم د پاکستان رسنيو د افغان حکومت په کچه تبليغات پيل کړل، له هغه مخکې دولسمشريزو ټاکنو پر مهال يې د عبدالله عبدالله په ملاتړ تبليغات کول.
د سولې د هڅو او طالبانو باندې د فشار راوستلو په موخه ولسمشر اشرف غني، سعودي عربستان او چين ته سفرونه وکړل. د پاکستان د پوځ مشر، د استخباراتو مشر او سرتاج عزيز د نواز شريف د امنيت شورا سلاکار کابل ته راغلل، اشرف غني اسلام آباد ته ولاړ.
له لنډې چوپيتا وروسته د ډيسمبر پر ۱۳مه ۲۰۱۴ د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت وياندې ميرمن تسنيم اسلم وويل د افغانستان په غوښتنه پر پاکستان هيڅ هيواد فشار نه شي راوړلای، هدف يې داؤ چې چين په دې اړه څه نه شي کولای. له دې مخکې سرتاج عزيز ويلي ؤ پاکستان به په هغو طالبانو فشار راته وړي چې پاکستان ته خطر نه وي، بيا يې وروسته خپلې خبرې ترميم کړي.
د ډيسمبر پر ۱۴مه ۲۰۱۴ ولسمشر غني وويل ګاونډي هيوادونه بايد د افغانستان په چارو کې ناسمه مداخله ونه کړي، او که دا ډول ناسمه مداخله کوي زيان يې دوی ته هم رسيږي، څيرونکي وايي هدف يې پاکستان ؤ
که څه هم د افغان حکومت په اشاره امريکا د پاکستاني طالبانو د مشر مرستيال لطيف الله مسود د پاکستان پوځ ته وسپاري او دغه کار افغان حکومت له پاکستان سره د ښه نيت او دوه لوري مرستې په موخه وکړ، مګر پاکستان د لطيف الله مسود د سپارلو په عوض کې عکس څرګندوني د تسنيم اسلم په خوله وکړي.
د سولې عالي شورا د اړيکو مشر موسی خان هوتک ويلي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې په په راتلونکې اونۍ کې د طالبانو په قطر دفتر کې ؤشي، د پاکستان او چين استازي به هم په خبرو کې ګډون ولري، که ربنتيا هم داسې ؤشي بيا نو پاکستان د افغان حکومت سره په مرسته کولو کې جدي بريښي.
دا احتمال هم شته چې څيني پاکستان ته وفادار افغان طالبان په قطر کې د طالبانو د خوښې خلاف د افغان حکومت سره خبرې وکړې، چې بيا هم ستونزه به پر ځای پاتې وي، او دغه ډول خبرې به د اصل لوري طالبانو استازيتوب ونه شي کولای.
سياسي شنونکي بيا وايي چې په کابل کې د طالبانو د حملو زياتوالی، او د افغان ولس له خوا د ربښتيني سولې غوښتنه، د ولسمشر غني له خوا د سولې ژمنه، افغان حکومت مجبور کړي چې د خلکو د اذهانو د ګرځولو له پاره دقطر دفتر اړوند دغه ډول څرګندوني وکړي، طالبانو ته نږدې سرچيني وايي چې په دومره بيړه او لنډ وخت کې د طالبانو د قطر دفتر بيا پرانستل کيدو خبره د منطق له مخې د منلو وړ نه ده.
شنونکي وايي پرته له مقدماتي خبرو، پرته له اجنډا او د هيوادونو ترمنځ د اعتماد او باور رامنځته کولو څخه د دغسې خبرو اعلان يواځې د امنيتي ستونزو څخه د خلکو پام د سولې لورته اړول ګڼل کيدای شي.
د طالبانو، افغان حکومت او پاکستان ترمنځ پرته له مقدماتي خبرو او ناستو د قطر دفتر د بيا پرانستل کيدو اوازې او خبرې غير معقول ښکاري.
دلته په کابل کې په واضيح ډول سره اجرائيوي رئيس او د شمال ټلواله او دا ډول د هغه دويم مرستيال استاد محقق، د ولسمشر لومړی مرستيال دوستم د جنګ او جګړې او د طالبانو له منځه وړلو خبرې کوي، هغوئ سولې ته ليوالتيا نه لري، د عبدالله له مشورې پرته به ولسمشر غني ته سخته وي چې د سولې خبرې په يواځي ځان پيل کړي.
له دې مخکې په تيره اونۍ په کابل کې دا خبرې هم کيدلې چې د طالبانو له پاره په کويټه کې نوی دفتر پرانستل کيږي او د قطر دفتر به د همدې دفتر فرعي څانګه قبول کړل شي.
څيني نظرونه داسې دي چې اوسمهال د پاکستان او چين پرځای ايران او روسيه د سولې اړوند ښه رول لوبولای شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د افغانستان د ننه د سولې د خبرو او سولې ته د رسیدو له پاره شمال ټلواله میلان نه لري، په دغې ډلې باندي روسیه فشار واردولای شي، دا ډول شمال ټلواله له ایران سره هم ښې پخوانۍ زړې اړیکې لري او پالي، بل خنډ د سولې اړوند اهل تشیع (هزاره قوم) دي، چې د سولې اړوند په رښتیني پروسه کې یې برخه نه ده لرلې، دغه خلک هم د ایران تر مخامخ اغیز لاندي دی، او ایران کولای شي چې دغه قوم د سولې خبرو ته چمتو کړي.

پاکستان پر خپل ځای اغیز لري، دا ډول هند ورته اغیز لري، پاکستان د سولې په پروسه کې مرسته کولای شي مګر طالبان مجبورولای نه شي، دا ډول هند د سولې په پروسه کې مرسته کولای شي مګر شمال ټلواله مجبورولای نه شي.

د افغانستان دننه بله ډله پخواني کمونسټان دي چې د اشرف غني په حکومت کې مهم رول او نفوذ لري، هغوئ هم سولې ته لیواله نه ښکاري، بیا هم روسیې ته سترګې اوړي چې د روسیې پخوانې ملګرى او د امریکا اوسني احسان منونکې کمونسټان سولې کولو ته اړ کړي.

دا ډول دوستم هم د روسیې غوښتنو ته د نه ویلو جرائت نه شي کولای، او پر دوستم ترکیه هم ډیر تأثیر لري.

روسیه په سیمه کې فعاله شوې، له پخوانیو کمونسټ جنرالانو سره اړیکې لري، خو اعتماد پرې نه لري، ولي هیله او امید لري چې که وتوانیږي د امریکا په خلاف یې په مناسب وخت کې وکاروي.

که څه هم روسان په پخوانیو کمونسټانو بې باوره شوې ځکه ډیری د هغوئ د امریکا تر څنګ ودریدل، او روسانو ته ژمن پاتې نه شول، برعکس ډیر پخوانې مجاهد رهبران بیا امریکا ته ژمن پاتې شول او د امریکا تر څنګ ودریدل.

روسیه له ایران څخه هغه وخت مایوسه شوه چې کله ایران له امریکا سره نږدې شو، روسیه هڅه کوي چې له طالبانو سره اړیکې ولري، او طالبان هم د روسانو سره د اړیکو په جوړولو کې اوس مهال کومه ستونزه نه لري.

په کابل کې د روسیې سفارت هیڅ ډول امنیتي تدابیر د نورو لویدیځ هیوادونو د سفارتونو په ډول نه لري او نه هم د طالبانو له خوا د برید تشویش لري، مګر امریکا په کابل کې د خپل سفارت په اړه تر بل هرچا زیات امنیتي تشویش لري.

داسي ښکاري چې روسیه اوس مهال د بشارالاسد او عراق حکومت ملاتړ نه کوي، ځکه عراق د امریکا او ایران پلوه او دا ډول سوریه هم د ایران پلوه حکومتونه دي، او ایران له امریکا سره اړیکې نږدې کیدل غواړي، معلومیږي چې روسیه په سیمه کې د داعش له کړنو هم تشویش نه لري.

اروپا هم د روسیې سره ټکر ته زړه نه ښه کوي، او اروپا له امریکا سره په احتیاط مخکې ځي، امریکا سره ځیني هیوادونه خپل پخواني رقابتونه هم ساتي، او ځیني هیوادونه غواړي چې امریکا په افغانستان کې نور زیان هم ووینې.

امریکا اوس هم په لویه تیروتنه کې ده چې د خبرو پرځای جنګ ته ترجیح ورکوي، افغان ولس ټکوي او ځپي، او دا داسي ولس دی چې په ټکولو او ځپلو سکندر مقدوني هم پري حکومت ونه شوای کولای، او په دغه سیمه کې یې ماتې وخوړه.

د امریکا د دوو لویو ګوندونو ترمنځ هم په نړیواله کچه د تګلاري لوی اختلاف لیدل کیږي، د اوباما اداري هڅه کوله چې په عراق او افغانستان کې د بوش شروع شوې جګړې قابو کړي او ختمې یې کړي، مګر جمهوري خواهان دا کار نه مني، همدا لاملونه ؤ چې د عراق او افغانستان په جګړه کې د پوځیانو د ایستلو د اعلان له امله جمهوري خواهانو پر اوباما خپل فشارونه زیات کړل، تر دي حده چې د هغه واکونه یې چلنج کړل.

جمهوري خواهانو په تیر نومبر ۲۰۱۴ کې د سنا مجلس ډیري چوکۍ انتخاباتو کې وګټلې، ډیموکراټان یې وارخطاء کړل، له همدې امله وه چې سپینې ماڼې د سي آی اې د جرمونو او شکنجو راپور چې د کوانتانامو، باګرام او ابوغریب زندانو اړوند ؤ، هغه راپور ته یې د نشر اجازه ورکړه، دغه ګرده جنایتونه د بوش او جمهوري خواهانو په وخت کې شوي ؤ، دغه راپور پرته له شکه پر جمهوري خواهانو یو لوی ګذار او فشار ؤ.

طالب ځان خپلواک بولي ، دوی وایي چې د خبرو له پاره یې د قطر دفتر یوائني استازي دفتر دی.

د سولې له پاره  پاکستان ته په کار ده چې دغسي پروسه سبوتاژ نه شي، دا ډول ترکیه هیواد هم په اعتماد کې اخستل په کار دي.

هند د طالبانو اړوند تشویش لري، او د طالبانو د نظام پرمهال چې د هند کومه الوتکه د مسعودالاظهر کسانو تښتولې وه او بیا په کندهار هوایي ډګر کې دغه الوتکه کینول شوه، تبادله وشوه، هند دهمدې پیښې له امله د ډیرو هغه وخت لوړ پوړو طالبانو نومونه دهند حکومت په تورلسټ کې شامل کړي، طالبانو ته په کار ده چې د هند سره د خبرو له لاري مخ کې ولاړ شي او د هند تشویشونو ته ځواب ووایې.

دا چې هند فکر کوي طالبان به پاکستان ته په افغانستان کې د ډیر نفوذ زمینه برابره کړي، د دي مسئلي اړوند هم هند ته ډاډ ورکول په کار دي چې داسي به نه کیږي

سعودي عربستان هڅې کوی چې له طالبانو سره اړیکې سمې کړي، مګر په دي معنی نه چې طالبان د ایران په مقابل کې وکارول شي

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د حکمتیار خبره هم وځنډیله، د ښاغلي حکمتیار د زومانو ښاغلي غیرت بهیر او ښاغلي همایون جریر ترمنځ توده مسابقه روانه ده، جریر هڅه کوي چې حکمتیار کابل ته راولي، او بهیر یې بیا کابل ته مانع دی، اوس مهال ښکاري چې حکمتیار صاحب ته مشوره ورکول شوي چې کابل ته رانه شي.

د طالبانو سره او د دوی له مشرانو سره د لیدنو خبرې پاکستان او کابل کوي، مګر طالبان یې ردوي او وایي چې د افغان حکومت او امریکا یواځنی هدف د طالبانو ترمنځ نفاق او په خپل منځ کې په یو او بل بې باوره کول دي.

په پاکستان کې د طالبانو خپل منځي هدفي وژني، کټ مټ لکه د جهاد په وروستیو کلونو کې چې په کویټه او پېښور کې کیدلې، اوس هم د ځینو مهمو مشرانو طالبانو په نښه کول او له منځه وړلو نښې نښانې ښکاره شوي.

داډول د پاکستان ځینې اداري هڅه کوی چې ځینې مهم طالب قومندانان خپل کړي، کوم چې د جهاد پرمهال په دغه کړنه کې پاکستان کامیاب ؤ، ډیری افغان قومندانان یې له خپلو ګوندونو او د ګوند له مشرانو بېل او خپل کړل.

افغان حکومت هم هڅه کوي چې ځینې مهم طالب قومندانان د ځان کړي، او له څو کلونو راهیسې دغه لړۍ دوام لري.

دغه ډول کړنې د سولې له پاره د دې پرځای چې ګټه وکړي تاوان کوي، او دغه لاره سولې ته د رسیدو لار نه ده.

طالبان به له حکومت څخه نوره هم فاصله نیسي او جنګ به دوام پیداکوي.

په پاکستان کې د طالبانو له منځه وړل او د ځینو کړیو له خوا خپل ځان ته کش کول د طالبانو له پاره حیاتي رول لري، او طالبان په دې اړه ژور فکر کوي، چې څه ډول د دغسې کړنو مقابله وکړي.

که چیرته امریکا اعلان وکړی چې د امنیتي تړون د لاسلیک سره سره دوی د ۲۰۱۶ کال تر پایه او یا کومه معلومه نیټه وښئي ؤځي مګر ملګري ملتونه او یا کوم بل لوی قوت چین او یا روسیه او یا اروپایي اتحادیه د دغسې خبرو منځګړی او شاهد وي، ممکن چې د سولې خبرې پر مخ یوړل شي.

افغان حکومت ته په کار ده چې د سولې راوستلو له پاره قرباني ته حاضر شي، که چیرته د سولې خبرې له امریکا سره نتیجې ته نږدې کیږي د افغان حکومت مشران باید استعفی کولو ته هم حاضر وي، که څه هم ولسمشر دغه خبره کړي، خوماته نه ښکاري چې واک به پریږدي.

اوس مهال ولسمشر اشرف غني وایې چې سوله کوي، او په هر قیمت یې کوي، چاودنې او د طالبانو حملې د سولې مخ نه شي نیولای، او حتې وایې که سوله ونه شي نو د حکومت مشرتوب پریږدي.

بل لورته طالبان هم د زور ښودنه کوي او حکومت هم خپل نظامې زور ښودنه کوي، او ممکن د حکومت د چارواکو غوښتنه له امریکا څخه وه چې تر لږ نوري مودې هم د جنګ او زور لاره خپله کړي، او د افغان امنیتي ادارو کلک ملاتړ وکړي، چې طالبان وځپې، همدا لامل دي چې په لیري پرتو سېمو کې د افغان حکومت له خوا حملې ډیرې شوې، او د طالبانو له خوا په ښارونو کې حملو زور اخستی دی.

په پاکستان کې د پوځ اړوند ښوونځې باندې د پاکستاني طالبانو حمله او دا ډول په کابل کې د استقلال لیسه کې د فرانسې په کلتورې مرکز د افغان طالبانو حمله، ډیری شنونکې په دې نظر دي چې دسولې له پاره غټ خنډونه دي، او که دغسې حملې دوام پیداکړي، بیا ممکن د سولې خبرې نور هیڅکله هم ونه شي، امریکا او د امریکا متحدین به طالبان هم د القاعده او داعش په ډول په ورته لستونو کې ځای کړي.

د امریکا او افغانستان تر منځ د امنیتي تړون تر لاسلیک وروسته د طالبانو قطر دفتر سکوت اختیار کړی، هیڅ ډول د سولې خبرې له هیچا سره نه کوي، حتی د ملګرو ملتونو کسانو ته یې هم منفي ځواب ویلي دی.

د امریکایې بندي بوبریګډال او پنځه طالب ګوانتانامو بندیانو تبادلې د سولې هڅې ډیرې نږدی کړي وې، امید کیدی چې سوله به ؤشي، مګر د امنیتي تړون لاسلیک تر کلونو ورسته دغه نیمه خلاصه دروازه بیرته بنده کړه.

اوس هم سولې ته ژمنیتا نه ښکاري، مولوي عبدالسلام ضعیف وایې چې په اخر وختونو کې موږ د سولي اړوند د زړه خبره کرزي ته نه شوای کولای، ځکه هغه کومه پاتې لار چې به مو ورته په ګوته کړه، هغه به هم کرزي وتړله.

اوسمهال په افغانستان کې د هند او پاکستان، ایران او پاکستان، سعودي او ایران، روسیې او امریکا، جګړه روانه ده، اروپا نه پوهیږي چې په راتلونکې کې کوم ډول عمل وکړي، انګلستان هم په سېمه کې د پاکستان ملاتړ کوي.

فرانسې د سولې او طالبانو سره د اړیکو له پاره زړه ښه کړی ؤ مګر په کابل کې د فرانسې سفارت په کلتوري مرکز برید به دغه لړۍ هم ټکنۍ کړي.

ناروې او جاپان  دوه هیوادونه دي چې د سولې اړوند فعال دي، جاپان ډیري پیسې لري مګر د امریکا له مشورې او اوامرو پرته کوم کار نه شي کولای

ناروې هڅه کوي چې فعال رول ولوبوي مګر د دغسې فعال او حقیقي رول په مخ کې ډیر خنډونه حکومت او امریکا پیداکوي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د سوريې او عراق ستونزې اهل تشيع متوجه کړل او ايران هڅه کوي چې ځان د سني ډيرکيو خواخوږي وښئې ځکه ايران د سوريې او عراق جګړه پر مخ نه شي وړلای

په عراق کې ايران د امنيتي تړون مخالفت وکړ، د احمدي نژاد په وخت کې يې په افغانستان کې هم د امنيتي تړون مخالفت کاؤ، حتی د ملي دفاع وزارت جنرالانو ته د په کابل کې د ايران سفارت د ميلمستيا پرمهال ويل شوې ؤ چې ايران دافغان اردو مصارف درکوي مګر د امنيتي تړون مخالفت وکړئ

کله چي په عراق کې داعش راپيداشو، ايران کې واکمنې بدله شوه، حسن روحاني په واک کې راغی، خپله تګلاره يې هم واړوله، په افغانستان کې يې د امريکا د امنيتي تړون ملاتړ وکړ

د افغانستان په ولسي جرګې او مشرانو جرګه کې ايران پلوه وکيلانو په ټينګه د امنيتي تړون د لاسليک ملاتړ وکړ.

په افغانستان کې جنګ نه د ايران او نه د پاکستان په ګټه دی، بلکه د امريکا او روسيې تر منځ يې ګټې وېشل کيږي، دا ډول هند هم ورڅخه ګټه پورته کوي، ايران او پاکسان بايد د زړه له کومې د سولې هڅو ته متوجه وي

د سياسي بنديانو سره تعامل، او د رسنيو تبليغات منفي او مثبت تاثيرات په سوله لري. ښه تعامل او پرځای تبليغات ښه تأثير، بد تعامل او ناوړه تبليغات  بد تأثر له ځان سره لري.

روسانو به کمونستانو ته ويل چې افغانستان به زموږ وي يا د مجاهدينو، تاسي ته نه رسيږي

امريکايان به هم ورته فکر لري چې افغانستان به د امريکا وي يا وسلوالو طالبانو، لويديځ پلوه افغانان پکې نه ځائيږي

ولسمشر اشرف غني د ټاکنو پرمهال دا هم ويل چې سياست او تجارت نه شي کيدای، لکه کرزی چې هم سياست کوي او هم تجارت، هدف يې د کرزي ورونه ؤ چې د کرزي له نوم نه په استفاده يې د حکومت د امکاناتو په کارولو سره تجارت شروع کړی، اشرف غني به ويل چې يابه سياست سړی کوي او يا به تجارت کوي. زه به يو کار کوم، سياست کوم او تجارت نه کوم.

که رښتيا هم غني سياست ته ژمن وي او د سولې تجارتي پروژو ته ژمن نه وي، آسانه او لنډه لار به داوي چې امريکا وهڅوې چې سولې ته غاړه کيږدی، د خپلو پوځيانو د ايستلو اعلان او امنيتي تړون  فسخ او يا د شرايطو تغيير، د طالبانو سره د امريکا مخامخ خبري او بيا وروسته بين الافغاني تفاهم ته لاره هواره کړي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ